# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



یونس نګاه

۱۴ اگست ۲۰۲۳




**یونس نګاه**

## د جهاد پر وړاندې جهادي فرمان

په تېرو دوو کلونو کې طالبانو د یوه نه ختمېدونکي جهاد روایت تبلیغ کړی دی. له ملا هبت الله نیولې بیا د طالبانو تر وزیرانو او ویاندویانو پورې ټولو هڅه کړې، چې حکومت یو اړخیزه چاره او د جهاد د نه ختمېدونکي ماموریت په خدمت کې تبلیغ کړي. ملا هبت الله یو ځل خپلې تر لاس لاندې یوې ډلې ته وویل چې د جګړې پر مهال مو د کلي خلک جهاد ته راوبلل او د هغوی په مرسته مو ښارونه فتحه کړل او اوس مو دنده ده چې ښاریان مجاهدین جوړ کړو، څو ټول جهاد ته چمتو شي او هر چېرته چې د تلو امر ورته وکړم ولاړ شي. د هغه ویاند د ازادۍ د اهمیت په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي وو، چې د دوی په وینا ازادي په دې دنیا کې ممکنه نه ده او د انسانو دنده د اخرت د ازادۍ لپاره د توښې راټولول دي. د طالبانو په روایت کې د آخرت تر ټولو ښه توښه هم د غیر طالبانو پر وړاندې جګړه ده. د طالبانو د مشرانو په رسمي او تبلیغي ویناوو کې تر حکومتولۍ، کار، آبادۍ او عامه هوساینې جهاد ته د اهمیت ورکولو ډېرې بېلګې لیدل کېږي. هغوی سره له دې چې ډېرو عاید لرونکو پوستونو ته یې ډېدې وهلې او د خپلې شتمنۍ او سیاسي واک په ډېرولو کې ډېر حرص لري، خو هېڅکله یې د جهاد له تبلیغه لاس نه دی اخیستی، ځکه چې اصلي مرکز او اصلي ملاتړی یې جهادي چاپېریال دی او د دوی سیاسي او ټولنیزې اړیکې او ترې د خپل نفوس ملاتړ دا ایجابوي چې په ارګ کې هم ځان یوه جهادي ډله وګڼي. له دغه روایته لیرېوالی د ځواک او جلب او جذب له اصلي سرچینو سره د دوی اړیکو ته نه جبران کېدونکي زیان ورسوي.

طالبانو د ملت او امت، دولت او امارت، قانون او شریعت، شورا او فرمان تر منځ دویم هغه غوره کړي دي. د هیواد د سیاسي بیرغ پر ځای یې په ارګ کې خپل جهادي بیرغ لګولی او اداري او سیاسي څوکۍ یې هم د جهادي غنیمت د قاعدې پر بنسټ، د خپلو جنګیالیو تر منځ وېشلې دي. اوس په دې ځانګړنو سره له یوه امارته ځینې دولتونه او خلک د هغه څه تمه لري چې یو سیاسي رژیم او حکومت یې ترسره کوي. ان تمه لري چې دا ډله د بهرنیو جهادي ډلو واګې په خپل لاس کې واخلي او له افغانستانه بهر د هغوی د ترهګریزو فعالیتونو مخه ونیسي. پاکستان پر طالبانو له خپل

شته نفوذه په کار اخیستنې سره، د طالبانو د مشرانو له لوري د پاکستان د جهادیانو پر وړاندې د فرمان، فتوا او علني دریځ تر اعلانولو پورې په دې هیله مخته تللی چې پاکستاني طالبان به کمزوري کړي او له هغوی سره به د افغان جهادیانو د همکارۍ مخه به ونیسي.

د جګړې اور ته په ببوزي وهلو او د جهاد په هڅولو کې د مذهبي چارواکو او جهادي مشرانو د فتواوو او فرمانونو د اغېز لرلو ډېرې بېلګې لرو، خو د افغانستان په څلوېښت کلنې جګړه کې د جهاد او ترهګرۍ پر ضد فتواوې اغېزناکې نه دي پرېوتي. د جمهوریت په شل کلنه دوره کې د افغانستان د نامتو ملایانو او مولویانو د غونډو پر جوړېدو ډېرې پیسې ولګول شوې او هلې ځلې وشوې چې د طالبانو جګړه ناروا اعلان کړي او د ترهګرو له لیکو سره د وړو او بې روزګاره پرګنو د یو ځای کېدو مخه ونیسي. د غیر افغان مذهبي مشرانو د فتوا د اخیستو هڅې هم وشوې. له سعودي عربستان، مصر، اندونیزیا او ان پاکستانه هم د ترهګرۍ ضد فتواوې او دریځونه خپاره شول. خو د جګړې اور مړ نه شو، ځکه له مذهبي فتواګانو پرته د بې کفایتۍ او اداري فساد په څېر نورو عواملو هم د خلکو ژوند تریخ کړی و، د جګړې د دوام لپاره له بهرنیو کانالونو ډېرې پیسې راتلې او په پایله کې یې د ګټې وټې هغه بازار چې د جګړې او ترور له امله رامنځته شوی و، د جګړې د اور د لمبو لوړوالی ټاکه. په پاکستان کې هم به د ملا هبت الله په فرمان، د طالبانو د مفتي په فتوا او د دې ډلې د وزیرانو د نظر په څرګندولو سره «جهاد» ونه درول شي. هغه سېلاب به چې نن په افغانستان کې روان دی او د خلکو ازادي، حقونه، ډوډۍ او ژوند لاندې کوي، دلته تم نه پاتې نه شي. هغه ګاونډیان او هېوادونه چې د طالبانو ملاتړ کوي، نه شي کولای چې په دغه ورانوونکي سېلاب کې د اوږدې مودې لپاره د خپلو هېلو کېښنتۍ وچلوي. که له طالبیزم، جهادیزم او تروریزم سره په هر ځای او هر هیواد کې مبارزه ونه شي، د هرې ورځې په تېرېدو سره به یې د پراختیا خطر لا پسې جدي شي.